TIER 2

د نړېوالې مذهبي ازادۍ لپاره د امریکه د متحده ایالاتو کمیسون (یو ایس سی آی آر ایف) د متحده ایالاتو د فدرالي دولت یو خپلواک او دوه ګوندیز کمیسون دی چې په 1998 کې د نړیوالې مذهبي آزادۍ د قانون (آی آر ایف اې) لخوا جوړ شوی چې دا له هیواده بهر د مذهب او د عقیدې د آزادۍ عالمي حق څارنه کوي. یو ایس سي آی آر ایف په خارج کې له مذهبي یا عقیدوي ازادیو د سرغړونو د څارنې لپاره نړیوال معیارونه کاروي او ولسمشر ، خارجه سکرتر ، او کانګرس ته د پالیسیو د جوړونې لپاره سپارښتنې ورکوي. یو ایس سي آی آر ایف یو خپلواک واحد دی او له خارجه وزارت بیل دی. د 2017 کلنی راپور د کمشنرانو او د مسلکي کارکوونکي د یو کال د کار پایله ده چې په ترڅ کې یې دوی په نړۍ کې زورزیاتي په لاسوندي توګه رایوځای کړل او اوس د متحده ایالاتو دولت ته د تګلارو په لړ کې خپلواکې سپارښتنې ورکوي. د 2017 کلنی راپور کې کال 2016 سر نه تر د فبروري 2017 پورې موده پوښ لاندې راوستل شوې ، که څه هم په ځینو بېلګو کې له دغه موده وروسته مهم واقعات هم ذکر شوې دي. د یو ایس سي آی آر ایف په اړه نور معلومات دلته وګورئ ، یا په 2027860611 مستقیم تماس ونیسئ.

### افغانستان

**مهم اکتشافات:** که څه هم د امریکه متحده ایالاتو په مشرۍ کې دوامداره نړیواله هڅه افغان طالبانو او نور سخت دریځو ډلو ، د داعش او القاعده په ګډون ، سره په جنګ ده خو د افغانستان عمومي ثبات او امنیت غیر یقیني دی. د دې ډلو متشدد نظریات او بریدونه ټولو افغانانو ، په ګډون د شیعه مسلمانانو ، هندوانو ، سیکانو ، عیسویانو ، او د بهایانو ټولنو ، ته ګواښ پېښوي. په کال 2016 کې افغان دولت ، د نړیوالې مرستې په مټ ، طالبان له هغو سیمو په وباسلو کې یو څه وړاندې تګ کړی دی چې تېرو کلونو راهیسې د طالبانو په لاسونو کې وې. اما ، د داخلي سیاسي ناثباتۍ ؛ پاشلي پولیس ، اردو ، او مخابراتي قواوو ؛ فساد ؛ او ناتوانه اقتصاد له امله دولت وړتیا نه لري چې ملکي خلک له بریدونو وساتي. له دې سربېره ، د هېواد اساسي قانون او نور قوانین د مذهبي یا عقیدوي آزادیو لپاره د نړیوالو معیارونو پر ضد دي. دغه اندېښنې پر اساس ، او دا تسلیمولو سره چې طالبانو او نور سخت دریځه ډلو سره په جګړه کې افغان دولت مهمې ننګونې لري او په عمومي توګه مذهبي او نسلي ټولنې له متشدده بریدونو ساتنه کې د وړتیاوو کمښت سره مخ دی ، په 2017 کې یو ایس سي آی آر ایف یو ځل بیا افغانستان په دویمه پوړۍ (2 Tier) کې ږدي ، چې 2006 راهیسې دی په همدغه پوړۍ پاتې شوی دی. په 2017 کې ، یو ایس سي آی آر ایف مومي چې د مذهبي آزادیو لپاره نړیوال قانون 1998 (آی آر ایف اې) کې د دسمبر 2016 د ترمیماتو لاندې طالبان باید له مذهبي آزادیو د سرغړونو په بنسټ "په ځانګړې توګه یو اندېښمنوونکی واحد" په توګه وپېژندل شي.

### د متحده ایالاتو دولت ته سپارښتنې

- آی آر ایف اې کې د دسمبر 2016 ترمیماتو لاندې دې طالبان ته "په ځانګړې توګه د یو اندېښمنوونکي واحد" درجه ورکړل شي ؛
- د افغانستان ولسمشر او اجرایي رییس سره دې د مذهبي آزادۍ د اهمیت په اړه خبرو ته دوام ورکړل شي ؛
- د افغان دولت چارواکي تشویق کړای شي چې په عامه توګه د مذهب یا عقیدې د آزادۍ ملاتړ وکړي او په هېواد کې د مذهب او ټولنې پر موضوعاتو د خلاص بحث و مباحثې لپاره مدني ساحه تخلیق کړي.
- پر دولت زور راوړل چې افغان اساسي قانون او نورو قوانینو ، په ګډون د رسنیو لپاره د 2004 قانون چې غیر اسلامي ګڼل شوې لیکنې منع کوي او د 2007 فرمان چې بهایي مذهب کفریه دی او پیرې ایمان راوړونکي کافران دي ، کې اصلاح راولي تر څو دا د مذهب یا عقیدې د ازادۍ لپاره نړیوالو معیارونو سره په سمون کې شي ؛

- باید یقیني کړي چې د مذهبي ازادۍ په حواله موضوعات د افغانستان لپاره د خارجه او د دفاع وزارتونو د ستراتیجیو تر پوښ لاندې راشي ، چې په دې لړ کې باید د متحده ایالاتو دولت لخوا د بېلا بېلو بخشونو ترمنځ عملي ډله یعني انټر ابجنسي ټاسک فورس بیا راژوندی کړي چې له 2013 تر 2015 پورې یې کار کړی و او مذهبي سخت دریځی ته ځواب ویلو ، په غیر مسلمو ټولنو باندې بریدونو ، او د سني شیعه تاوتریخوالي مخنیوي ته یې لومړیتوب ورکاوه ؛

- چې د متحده ایالاتو او افغانستان په منځ کې ستراتیجیکو خبرو اترو ته پر مذهبي ازادۍ کار کوونکې یوه ځانګړې کاري ډله ورزیاته کړي ؛

- چې افغان دولت ته تشویق ورکړي چې د دولتي او نیمه دولتي مذهبي ارګانونو په وسیله ، د بین المذهبي خبرو اترو یو ابتکار وزېږوي چې په بین الاسلامي خبرو اترو او بېلا بېلو ادیانو سره پر ناستو پام مرتکز کړي ؛ او

- تضمین کړي چې افغان دولت او طالبانو تر منځ د سولې او پخلاینې په لټون کې په کومو خپلمنځي یا ګډمنځي خبرو اترو کې د بشري حقوقو په اړه اندېښنې ، د مذهب یا عقیدې د ازادۍ په ګډون ، شاملې وي ، او دا چې د هرې سولې د موافقې فریقونه باید د بشري حقوقو لپاره د نړیوالې اعلامیې ته د درناوي ژمنه وکړي.

**شالید**

تخمینه کېږي چې د افغانستان نفوس 33.3 ملیونه دي ، چې په دوی کې له 84 تر 89 سلنه سني مسلمانان دي ، او له 10 تر 15 سلنه شیعه مسلمانان دي. د سیکانو ، هندوانو ، عیسویانو ، او نورو مذهبي ټولنو سلنه په کلي توګه له ټولو نفوسو 0.3 ده. که څه هم د هیواد نفوس په دیني توګه متشابه دي ، خو نسلي تنوع لري. د امریکا د متحده ایالاتو د دولت د شمېرو تر مخې ، د افغانستان نفوس 42 سلنه پښتانه ، 27 سلنه تاجک ، 9 سلنه هزاره ، 9 سلنه ازبک ، 3 سلنه ترکمن ، 2 سلنه بلوڅ ، او 8 سلنه نورې نسلي ډلې لري.

د اساسي قانون تر مخې اسلام ریاستي مذهب دی ، او دا چې د اسلام د عقیدو او شرایطو په ضد به هېڅ افغان قانون نه جوړېږي. اساسي قانون په مذهب یا عقیده کې د افرادو د ازادۍ حق هغه شان نه تضمینوي لکه څرنګه چې په نړیوال بشري قانون کې ورکړل شوی. اساسي قانون کې لیکل شوي چې غیر مسلم خلک "ازادي لري چې د قانون د شرایطو لاندې خپل مذهبي لمانځنې ترسره کړي" ؛ خو مسلمانانو لپاره د مذهب یا عقیدې د ازادۍ لپاره په اساسي قانون کې هېڅ قواعد نه دي غوره شوي. له دې سربېره ، په داسې دوسیو ، لکه مقدساتو ته د توهین ، له دینه د کوښه کېدنې ، او په بل دین د ایمان راوړنې دوسیو کې ، چې نه د جزا په قاعدو او نه په اساسي قانوني کې په څرګنده توګه تر پوښ لاندې رواستل شوې دي ، د هیواد د جزا د قوانینو مجموعه محکمو ته اجازه ورکوي چې د حنفي فقې د شرعي قانون او د حدودو د قوانینو لاندې (چې د خدای په ضد جرمونه هم پکې شامل دي) پرېکړې وکړي. په دې نظام کې ، د دولت ملاتړ لرونکي دیني مشران او د عدلیې نظام ته وړتیا ورکړل شوی چې د اسلامي اصولو او حنفي شرعي قانون ترجماني وکړي او عملي یې کړي ، چې دا کله کله د مذهبي عقایدو په ترجمانۍ کې د بې اصولۍ او ناجایزې تشریح موجب ګرځي او پایله یې سخت جزاوو لکه مرګ د جزا تنفیذ وي. په 2016 کې د جسماني برید ، پولیسو لخوا د نیونې ، بندي ساتنې ، یا د مقدساتو د توهین یا مرتد کېدا په لړ کې د محاکمو هېڅ راپورونه نه و راغلي. خو د خارجه وزارت تر مخې ، یو تن چې په 2013 کې مقدساتو ته د توهین په تور 20 کاله بندي شوی و په دغه کال کې هم بندي و.

اساسي قانون دا هم وایي چې شیعه مسلمانان د ذاتي معاملو په لړ کې د شیعه اسلامي فقې شریعت په کار راوستلې شي خو اساسي قانون د غیر مسلمو لپاره په ذاتي معاملو کې د کوم قانون حواله نه ورکوي. په 2004 کې جوړ شوی د رسنیو قانون د غیر اسلامي ګڼل شویو لیکنو ممانعت کوی ، چې دا د ژرنلستانو او نورو د بندي کولو لپاره لاره هواروي. سره له دې ، په 2007 کې د افتاء او احتساب عمومي ریاست لخوا د یوې فتوې راهیسې بهایي مذهب د مقدساتو د توهین یوه بڼه ګڼل کېږي ، یعني بهایان کافر ګڼل شوي او چې څوک په بهایي ایمان راوړي ، هغه مرتد بلل کېږي.

د هر مذهب او نسل افغانانو ډلو کې ډېر شمېر خلک له کورونو تبنتېدلي او دوی ته د بشري مرستو اړتیا ده. په 2016 کې کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو کمشنرۍ راپور ورکړی و چې 2.7 ملیون افغانان له خپل هېواد بهر مېشت دي ، او شاوخوا 1.2 ملیون د هېواد دننه بې کوره شوي دي. په 2016 کې افغان دولت راپور ورکړی و چې له 550000 خلک د جګړو او ناامنۍ له امله له خپل کورونه پرېښودو ته اړ شوي دي. سره له دې ، که څه هم په هېواد کې ناامني ده ، ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې په 2016 کې 1.5 ملیونه هغه افغانان چې په تېرو کلونو کې له هېواد تللي وو - په ځانګړې توګه پاکستان ، ایران ، او اروپا ته - هېواد ته ستانه شول ، چې پکې ډېر ، د راجستر شویو کډوالو په ګډون ، په جبر سره ستانه کړي شوي وو.

## په 2016-2017 کې د مذهبي ازادۍ حالات

***د شیعه مسلمانانو حالت:*** د تېر کال په ترڅ کې شیعه مسلمانان ، په ځانګړې توګه هزاره نسل خلک ، د ګڼ شمېر متشدد او وژونکو بریدونو او هم د تښتونو ، چې په مرګ تمامې شوې ، ښکار شول. د دې بریدونو دعوې یا یې نسبت د متحده ایالاتو لخوا ترهګر شمارل شویو ډلو ، د طالبانو او داعش په ګډون ، سره شوی و. د راپورونو له مخې ، د جولای او نومبر 2016 په منځ موده کې له شیعه ټولنې له 500 زیات خلک وژل شوي یا ټپي شوي وو. دا تورو دوام لري چې دولت د شیعه اکثریتي سیمو کې د مناسب امنیت ورکولو کې پاتې راغلی دی.

د بېلګې په توګه ، په جون 2016 کې ، طالبانو په سرپل ولایت کې 17 هزاره شیعه مسلمانان وتښتول ؛ او دا یې وروسته پرېښول ، چې راپورونه وايي د ټولنې مشرانو طالبانو ته فدیه ورکړې وه. داسې بیان کېږي چې دا کسان د افغان دولت لخوا د طالبانو یوه ځایي مشر د نیولو په غبرګون کې تښتول شوي وو. په جولای کې ، د داعش دوه ځانمرګو بریدګرو په کابل کې د هزاره شیعه مسلمانانو په یوه سوله ییز احتجاج برید کړی و ، چې پکې لږ تر لږه 80 کسان وژل شوي وو او له 400 زیات یې ژوبل کړي وو. د ټولنې اعتراض و چې دولت د برېښنا یوه پروژه له بامیان ، چې د هېواد په مرکزي غرنۍ سیمه کې د هزاراوو غالب اکثریت لرونکی ولایت دی ، هاخوا اړولې وه. اکتوبر 11 او 12 په ورځو د داعش لخوا په غاړه اخیستل شویو دوو بریدونو کې د شیعه ګانو د عاشورې لمانځنې په نښه شوې وې. په 11 اکتوبر په کابل کې د کارتې په زیارت د برید په ترڅ کې لږ تر لږه 19 کسان وژل شوي وو او په درځنو خلک ژوبل وو. په 12 اکتوبر ، په خوجه غولک ، بلخ ولایت ، په یوه جمات کې بم وچاودېده ، چې په نتیجه کې 14 کسان مړه شول او 30 ژوبل شول ؛ په نښه شویو کې دېری ماشومان وو. هم د اکتوبر په میاشت کې ، داعش د شیعه اکثریتي سمې غور نه 30 ملکي کسان وتښتول او وه یې وژل. په نومبر کې ، د داعش یوه ځانمرګي بریدګر په کابل کې هغه وخت لږ تر لږه 32 کسان ووژل او 50 نور ټپیان کړل چې کله شیعه ټولنې خلک د اربعین په مذهبي لمانځنه کې بوخت وو.

***د غیر مسلمو حالت:*** غیر مسلم مذهبي ټولنو پر ضد معاشرتي تبعیض ، ځورونې ، او ، کله کله ، تاوتریخوالی دوام لري. راپورونو له مخې غیر مسلم خلک او هم هغه خلک چې له اسلام بل دین ته اوښتي ، د ګواښونو او ځورونو لاندې راځي تر څو پر دوی اسلام ته اوښتنې لپاره فشار راوړل شي. دې سره سره ، غیر مسلمو ټولنې وايي چې عمومي ناامني او د اقتصادي فرصتونو د نه شتون له امله دوی اړ کېږي چې هجرت وکړي.

په دسمبر 2016 کې د هندانو او سیکانو قامي غیر دولتي تنظیم این سي ایچ ایس راپور ورکړی و چې په افغانستان کې له دغه دوو ټولنو 200 نه لږې کورنۍ ، یا تقریباً 900 افراد پاتې شوي دي. که څه هم هندوانو او سیکانو ته په عامه ځایونو کې پر خپلو ادیانو د عمل کولو اجازه شته او د ولسمشر لخوا د ټاکنې په وسیله په پارلیمان کې نمایندګي لري ، خو په 2016 کې د هندوانو او سیکانو ملي موسسې یعني اېن سي ایچ ایس راپور ورکړی و چې ځایي خلک اکثره د مړو د سونګ په لمانځنو کې مداخله کوي یا یې ګډوډوي.

په افغانستان کې د عیسویانو او بهایانو د نفوسو په اړه د اعتبار وړ تخمینې نشته خو ، په اروپا کې د کډوالو شویو نه اخیستل شویو راپورونو په بنسټ ، دا نفوس ښایي په 2015 کې د طالبانو لخوا د بیا سر راپورته کولو نه وروسته تر مهمې کچې کم شوي وي. په هېواد ایکي یوه معلومه عیسوي کلیسا د اتالوي سفارت دننه په کار بوخت دی. د 2007 فتوې له امله بهایي خلک پټ په پټه اوسېږي.

***د ښځو حقوق:*** د طالبانو د کنټرول په سیمو کې ښځو ته د کار کولو ، ښوونځي ته تللو ، یا د یوه نږدې نرینه خپلوان نه بغېر له کوره وتلو اجازه نشته ، او دوی اړ کېږي چې برقعه واغوندي. په دسمبر 2016 کې د طالبانو د کنټرول لاندې د سرپل ولایت لټي کلي کې پنځه بریدګرو - چې ګمان کېږي طالبان وو - د یوې 30 کلنې ښځې سر ځکه پرې کړ چې له کوره د کوم نرینه خپلوان پرته بهر وتلې وه. نور دا چې ښځې د زنانه ډاکترانو د نه شتون له امله ښځې له روغتیایي خدماتو بې برخې ساتل کېږي. د طالبانو ډله د دوی له کنټرول بهر سیمو کې هم ښځې په نښه کوي.

د افغان دولت د کنټرول په سیمو کې ، ټولنیز نورمونه په ځایي کچه ډېری وخت د مذهبي مشرانو لخوا پلي کېږي ، ښځې او انجلۍ ډېری وخت تبعیض ، تاوتریخوالي ، ځورونې ، د زور واده ، له کوره بهر د کار یا درس ویلو باندې بندېزونو ، او د اغوستنې پر کالیایو باندې محدودیتونو سره مخامخ کېږي. ښځې او انجلۍ ډېری وخت د دوی پر ضد شویو جرمونو راپور نه ورکوي. غیر مسلمې ښځې له مجبورۍ برقعې اچوي یا د مخ پټونې نورې طریقې خپلوي.

په مارچ 2016 کې چې کله له 40 زیاتو افغان مدني ټولنو او د ښځو د حقوقو تنظیمونو د سترې محکمې د ودانۍ په مخکې په دې اعتراضونه وکړل چې د ټیټې کچې یوې محکمې په 2015 کې د فرخنده ملکزاده ، یوه مسلمانه پېغله چې پرې د قران د سوځولو دروغجن تور لګول شوی و ، د وحشیانه او په عامه محضر کې د وژنې په جرم کې 13 سړیو ته په سزاوو کې کمښت کړی و ، نو افغان ولسمشر اشرف غني یې د څېړنې لپاره د پلټنې یوې کمېټې د جوړولو یو فرمان صادر کړی و. د دغه وژنې ګرافیکه ویډیو د ځنګل د اور په شان خپره شوه او په ګرده نړۍ کې یې خبري سرټکو کې ځای وموند. په لومړیو کې ، تقریباً 50 کسان ، چې پکې 19 پولیس افسران شامل وو ، محاکمې لاندې راوستل شوي وو. هغه وخت ، له ملکیانو څلورو ته د مرګ سزا واورول شوه ، اته کسانو ته د 16 کلونو بند ورکړل شو ، او 18 کسان بې قصوره اعلان شول ؛ له پولیسو 11 کسانو ته یو یو کال بند ورکړل شو او اتو کسانو بري شول. خو وروسته ، درو مدافع علیهانو ته سزا له مرګ راټیټه 20 کالو بند ته واړول شوه ، او څلورم ته 10 کاله بند ورکړل شو ، او له نورو د بند سزاګانو ، نهه ډېرې لندې راکړل شوې.

**د متحده ایالاتو تګلاره**

له یو عشرې زیات وخت راهیسې په سوېلي اسیا کې افغانستان د متحده ایالاتو د پام مرکز ګرځېدلی دی. د امریکه د دولت هڅې د باثباته افغانستان په جوړولو او د سخت دریځو ډلو سره پر جنګ متمرکزې پاتې شوې دي. متحده ایالاتو په 2014 کې د افغانستان سختو لانجمنو ټاکنو کې د دریم ګړي منصف رول ورکړ ، چې په پایله کې اوسنی حکومت جوړ شو. په 2015 کې په افغانستان کې د متحده ایالاتو او نړیوال ځواکونو ماموریت له جګړې واوښت او د روزنې مشن وبلل شو ، که څه هم د متحده ایالاتو ځواکونو ته اوس هم اجازه شته چې جنګي عملیات ترسره کړي. متحده ایالات په دې هېواد کې ده دوو پوځي ماموریتونو مشري کوي: د متحده ایالاتو او د افغانستان ګډ مشن او د ناټو لخوا د کلک ملاتړ ماموریت. په افغانستا کې شاوخوا 10000 متحده ایالتي پوځیان دي ؛ په جولای 2016 کې ولشمشر باراک اوبامه اعلان وکړ چې دا پوځیان به دې هېواد کې د ده دفتري مودې تر پایه موجود وي. په جنووری 2017 کې ، د راپورونو له مخې ولشمشر ډانلډ ټرمپ اشرف غني ته ویلي چې دی به د افغانستان ملاتړ ته دوام ورکړي او د په دې هېواد کې د متحده ایالتي پوځیانو شمېر زیاتونې په اړه فکر وکړي. نور دا چې د 2015 په وروستۍ موده کې ، د امریکه متحده ایالاتو د څلور اړخیر توافق ډله (چې ورکې متحدا ایالات ، پاکستان ، چین ، او افغانستان شامل دي) جوړولو کې مرسته وکړه. د ډلې موخه دا وه چې د افغان دولت او طالبانو تر منځ خبرو اتر لپاره چوکاټ جوړ کړي. خو ، په 2016 کې ، ډلې څه بریا ترلاسه نه کړه او دا ډله هغه وخت زورورو ننګونو سره مخامخ شوه چې کله افغان دولت د پاکستان په دولت تور ولګاوه چې دی د اوربکو پر ضد عمل کولو کې پاتې راغلی. دا ډله په می 2016 کې رایوځای شوې وه ؛ او دغه رپوټ تر وخته اینده کې هېڅ لیدنه نه وه طرح شوې.

په اپریل 2016 کې د هغه وخت د خارجه چارو وزیر جان کېري کابل ته سفر کړی و ، چېرې چې ده د خارجه چارو وزیر صلاح الدین رباني سره د افغانستان او متحده ایالاتو دوه اړخیز د کمیسون دریمه غونډه په ګډه مېلمه کړه. په بحث کې موضوعاتو کې امنیت او دفاع ، جمهوریت او حکومتوالي ، او ټولنیز او اقتصادي پرمختګ مخې ته راغلل. دې سره سره ، خارجه وزیر کېري په کابل کې وخت په ترځ کې ولسمشر غني او اجرایه رییس عبدالله عبدالله سره ولیدل. په ګښمېر موقعو ، د هغه وخت سفیر رچرډ اولسن ، چې د متحده ایالاتو لخوا افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړی نماینده و ، په ورته موضوعاتو خبرو لپاره دې هېواد ته ورغلی و. افغان دولت سره د خپلو دوه اړخیزو او ګڼ اړخیزو خبرو اترو په ترځ کې ، د امریکه متحده ایالاتو دولت د هغو نسلي او مذهبي ټولنو په زیاته ښه ساتنه زور ورکړی دی چې د سخت دریځو ډلو ممکنه هدف جوړېږي.

افغانستان لخوا پر متحده ایالاتو او خارجي مرستو تکیه په نږدې راتلونکي کې د بدلون امکان نه لري. په اکتوبر 2016 کې په برسلز ، بلجیم کې 100 هېوادونه دې لپاره رایوځای شوي وو چې په د 2012 د ټوکیو په دوه اړخیزه مسولیت چوکاټ له وسیلې شوې ژمنې تازه کړي. نړیوالو عطیه ورکوونکو ژمنه وکړه چې تر 2020 به افغانستان ته 15.2 بلیون امریکایي ډالره ورکوي ، او متحده ایالاتو ژمنه وکړه چې دا به افغانستان سره د ملکي ملاتړ کچه په هم هغه سطح یا هغه سطحې ته نږدې ساتي چې د 2016 په ترځ کې یې ورکړه. د 2015 په اقتصادي کال کې ، افغانستان سره د یو ایس ایډ او د خارجه چارو وزارت ټوله بشري مرسته 182.9 ملیونه وه.